۲۰۱۴/۰۷/۱۶

پوهندوی آصف بهاند

# په نرخ کې بې نرخي

په تاند ویبپانه کې د ۲۰۱۴ کال د جولای په څوارلسمه نیټه د «دا د نرخ جګړه د چا ده – چې بلا یې پرته په ما ده» تر سرلیک لاندې د ښاغلي «تابع» په قلم یوه مقاله خپره شوې ده.(۱) په دې مقاله کې طرح شوې ستونزې، ګیلې او دردونه د ځانګړې پاملرنې وړ دي، چې زه په دې مقاله کې ورباندې تم کېږم.

دا دی په «نرخ» کې هم یو ځوک پیدا شو چې د نرخ غږ جګ کړي. هغه څه چې نن پر «نرخ» او«نرخیانو» باندې تېرېږي، یوازې خدای ته او هغو خلکو ته مالوم دي چې هلته اوسیږي. حتی زه چې نرخی یم نه یې شم درکولای. شاو درویشت کاله کېږي چې زه نرخ ته نه یم تللي چې څومره خپلو او څومره پردیو اړولی کړولی، یوازې له لرې ورنه خبر یم او د دې ځوان د مقالې په لوستلو یو ځل بیا لاړم د نرخ کلو باندو ته، هغه سهارنی «شیرام» مې پرمخ ولګید، لکه د «دادل» د سهار د لمانځه پر مهال به چې لګیده، خو دا وار ته د غم څه خونړی منګلولي هم ورسره وې چې ستونی یې را ته ومروړه.

ښاغلي «تابع» د خپل زړه درد، د خپل ځان، پلرني کلي او محل «نرخ» په باب، د لوستونکو مخ ته ایښی دی. د ده دا غمونه او ستونزې زه په عام ډول د یوه انسان په توګه او په خاص ډول د یوه افغان او بیخي په ځانګړي ډول د یوه نرخوال په توګه لکه د ده په شان اوښایي تر ده هم ډېر درک کړم؛ خو زه داسې فکر کوم چې دا ستونزه او دا پیښې غم یوازې په میدان او نرخ پورې اړه نه لري، دا ستونزه او دا غم افغانستان شموله دی.

په ټولو هغو سیمو کې چې سواد نه شته، ښوونځی نه شته، پوهنځی نه شته، پوهه نه شته، میډیا ته لاسرسی نه شته، په هغو ځایونو کې ټوپکوال بیسواده نسل، بیسواده زلمیان په بیلابیلو نومونو ډېر ښه د جګړې دایرې ته ور ننه ایستلای شي، د قلم او کمپیوټر په ځای په لاس کې ټوپک ورکوي او په بیلابیلو نومونو یې یو د بل په مقابل کې جنګوي، چې یوه سیمه یې د میدان د نرخ ولسوالي ده.

نرخ د افغانستان په پخواني تشکیل کې علاقه داري وه، خواوسني اداري تشکیل کې میدان وردګو ولایت پورې اړوند یوه ولسوالي ده. میدان ښار له پلازمینې (کابل) سره دیرش کیلومتره او د میدان ښار د نرخ ولسوالی تر ټولو وروستی سیمه چې د «دادل» درې د زیارت کلا ده، څه باندې شپیته کیلومتره واټن لري.دا سیمه چې د یوه هیواد له پایتخت سره دومره نږدې پرته وي باید له ډېرو امکاناتو برخمنه سیمه وي، په داسې حال کې چې له دغو امکاناتونه دوه سلنه هم د نرخیانو په برخه نه وو او نه دي. دا ولې؟

په داسې حال کې چې ټول میدان وردګ ولایت د امیر شیر علي خان له واکدارۍ نه بیا تر ۱۳۴۳ کال پورې د کابل په اداري تشکیل کې شمیرل کېده. له ۱۳۴۳ کال نه وروسته د افغانستان په اداري چوکاټ کې د یوه ځانګړي ولایت په توګه داخل کړای شو...(افغانستان پیژندنه،ص ۱۱۸)، (۲)

په هغې لنډه موده کې چې زه په نرخ کې استوګن وم، د خپل مور، پلار او نیکونو د کور کلي او ځای ځایګي د ښې پیژندنې په سلسله کې زه ټولو هغو سیمو ته لاړم او له نږدې مې ولیدې چې ما د خپلو خپلوانو او هم صنفیانو په مرسته کولای شول.

په عامو خلکو کې «نرخ» د ولسي قانون په مانا استعمالیږي. دا خبره د خواصو اوعوامو له خوا کارول کیږي چې:«له ښاره ووزه، له نرخه مه وزه»

په قاموسونوکې د نرخ مانا داسې ثبت شوې ده:

نرخ: (narx) نر.م. بیعه، قیمت، ولسي قانون(پښتو پښتو سیند، مشوانی،۱۰۰۹ مخ)، (۳)

د نرخ کومه نقشه چې زه دلته لوستونکو ته په لیکنی بڼه وړاندې کوم، دا زما خپل شخصي مالومات دی چې په ۱۳۵۴ کال پورې اړه لري. حتماً به اوس نوي کلي آباد شوي وي،جګړې به ډېر کلي وران او سوځولي وي.

نرخ د میدان وردګو په ولایت پورې اړوند یوه علاقه داري وه چې د میدان ښاره له «ده افغانان» نومي کلي نه په تیریدو سره لویه دښته پیل کیده او د دښتې په منځ کې یوه زړه ودانۍ وه چې د علاقدارۍ دفتر په کې و، له همدې ځای نه د نرخ سیمه پیل کیده. د لارې په ښاوخوا کې لوی او واړه کلي پراته وو چې لومړی کلی یې د مرو کلا نومیده. وروسته کریم داد نومی کلی و، له کریم دادو نه په تیریدو سره ښي لاس ته سرک ګرځیدلی و، چې د دادل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

درې ته یې لار ایستله. له هغه وروسته د لارې پر سر نور واړه او لوی کلي پراته وو چې تر ټولو لوی یې د ښاغلي ډاکتر وکیل کلی، عمر خیل و. د نرخ لیسې هم همدلته موقعیت درلود، ځکه چې د تولو کلو او درو په منځوي برخه کې یې موقعیت درلود.
بیا د نرخ څلور لویې درې وې په دې ډول:
ـ دادل،
ـ صد مَردَه،
ـ تُوکرَک،
ـ اخچَی،
دا چې نرخ یو وخت بیخي د مرکز یعنې پلازمینې یوه برخه وه اوبیا یې د بل ولایت په چوکاټ کې کابل ته نږدې موقعیت درلود او بیا نرخ ولسوالي خو کابل ته نږدې او بیا د کابل کندهار یا کابل هرات د لویې لارې پر سر پرته سیمه وه او له دې سره سره دومره وروسته پاتې ده چې د وګړو د سواد او پوهې او د ژوند سطحه یې ډېره ټیټه ده چې د قلم په ځای ټوپک ته لاس کوي. دا ځانته دلایل او عوامل لري، چې تر ټولو لوی دلیل یې بې سوادي او د ښوونځی نه شتون دی. داسې دلایل هم په کې شته دي چې د خود سانسورئ په وجه سړی د اوس له پاره هغه نه شي یادولای خو اصلي لامل به دا وي چې یو څه د بیلابیلو حکومتونو د نه پاملرنې په وجه او یو څه د دودیزو اوقبیلوي قوانینو په دایره کې د خلکو پاتې کیدل دي.
د ښاغلي «تابع» مقاله کې مطرح شوې ستونزې نیغ په نیغه د خلکو د سواد له نشتوالي او کموالي سره اړیکې لري، او ما ته د یو ښوونکي په ډول د ټول افغانستان د وګړو د سواد، ښوونځي، پوهنځي او زدکړو مسأله مهمه ده او د هغو تر څنګه د نرخ د سیمې.
زه خپله میداني یم، نرخي یم، او له ټولو نه مهمه دا چې په نرخ کې له یوې لیسې نه چې د نرخ لیسه نومیږي فارغ شوی یم.
بله مهمه موضوع دا ده چې په هغې موده کې (۱۳۵۴) چې ما په نرخ لیسه کې دولسم ټولګي کې زدکړې کولې، په هغې موده کې د سواد او ښوونځي پورې اړوند څو خوږې او ترخې خاطرې لرم، زه فکر کوم چې له لوستونکو سره یې د شریکولو ښه موقع همدا ده، چې د ښاغلي تابع د ګیلو او دردونو پر عرایضو باندې د تائید ښه ټاپه هم کیدای شي.
لا په هغه وخت(۱۳۵۴) کې چې ما(آصف بهاند) د نرخ په لیسه کې د دولسم ټولګي زدکړې کولې، په ټول کې د نرخ په سیمه کې په تیره «دادل» دره کې د سواد مسأله یا نه وه یا داسې وه چې په نشت حساب وه. د «دادل» په دره کې د دولتي تشکیل له مخې یو لومړنی ښوونځي منل شوی و، هغه هم داسې چې ښوونځي ودانۍ نه درلوده او چا ماشومان نه ورلیږل او ډېر ځلې به ښونکي هم نه وو. دغسې یې در واخله د نرخ په ټولو کلو او درو کې.
د ښاغلي «تابع» د مقالې په لوستلو سره ما ته د نرخ د «دادل» د کلي هغه ماشومان را په یاد شول چې ما(آصف بهاند) به د سین له غاړې د نرخ په «معصوم خیلو» کلي کې د صوفي صاحب زیارت ته نږدې د سیند پر غاړه د چنار په سیوري کې، په پسته شګه کینولي وو او د ښوونځي د نه شتون په وجه به مې پر یوې تخته ډوله تورې تیږې باندې یوازې «الف» او «ب» ورزده کوله.
ما ته د «معصوم خیلو» د کلي هغه ماشومان را په یاد شول چې په ۵۴ ۱۳کال کې ښوونځي ته د شاملیدو په خاطر ښوونکي راغلي وو، کلي په کلي ګرځیدل، ډېری خلکو خپل ماشومان ورنه پټول، نه یې غوښتل چې واړه یې ښوونځي ته ولاړ شي. لکه د افغانستان د نورو سیمو، له یوې خوا ورته ویل شوي وو چې په ښوونځي کې ګمراه کیږي، خپله عقیده له لاسه ورکوي عقیده یې متزلزله کیږي، له بلې خوا میندو پلرونو سره د روزي د پیدا کولو غم هم و. هر ماشوم باید له مشرانو سره په پوله پټي او یا نوره خواری غریبۍ کې اوږه ورکړې وای. که نور هیڅ نه وو، ماشوم به د کلي «لیربه» کیده، چې هماغه ماشوم به بیا په ځوانۍ کې یا شپني کوله او یا به یې نورې خواری مزدوری ته مخه کوله.
زما داسې یادیږي لکه دا پرون، چې په ۵۴ ۱۳کال کې د «دادل» درې ته ښوونکي مکتب ته د ماشومانو د شاملولو له پاره راغلي وو. زه په هغې ورځې له ښوونځي نه قصداً وختي راغلم او غوښتل مې چې زما د اوښي ورارہ چې محمد اکبرنومیده، اوه که اته کلن و، ښوونځي ته شامل کړم. پلار یې دومره زړه نه ورته ښه کاوه، خو ما چې د ښوونکو د راتګ واوریدل، پلار ته مې یې قناعت ورکړ او په دې مې پوه کړ چې دا هلک ډېر اوږد ژوند په مخ کې لري. پرته سواد او ښوونځی نه کیږي، باید ښوونځي ته ولاړ شي، په دې کلي کې چې د ښوونځي، او زدکړو څومره امکانات شته، دا خو به وکړي، باقي خدای مهربانه دی. په هغه وخت کې ما ورته وویل چې د سواد زدکړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ژوند دی، سترګي يې غړيږي، ژوند به يې سم شي له مزدورۍ او مجبوريت نه به خلاص شي، له خپلي کورنی، له خپل کلی کور قام ولس او په پای کي له خپل وطن سره به مرسته وکړي، په ښه او بد به پوه شي. که خدای کول ډاکتر،انجنير،... به شي که هيڅ نه و يو عادي سواد خوبه ولري چي د ليک د لوستلو جوګه وي. ګوره اوس چي څوک کوم ليک راوړي يا له بل کلي دواده يا ختم رقعه راشي، تا سو په ملا پسي منډې وهئ چي وی لولي چي څوک او څوک يې غوښتي دي او ...

چي له ښوونځي راغلم د هلک پلار په کور کي نه و، د هلک له مور نه مي وپوښتل چي ښوونکي کلي ته راغلي وو؟ هغي وويل چي و. محمد اکبر مو شامل کړ؟ ويل يې چي نه او ...

ما هلک په بيړه له لاسه ونيو او د اوله کوز کلي سره نږدې مي ښوونکي ګير کړل او د هلک نوم مو په لست کي وليکه. بيا چي څو شاګردان پيدا شول د ښوونځی د ودانۍ د جوړولو له پاره، د «دادل» په ټوله دره کي څوک نه حاضريدل چي ښوونځي ته ځمکه ورکړي، يعني ورباندې خرڅه يې کړي.

د هغه وخت د مقاماتو له خوا د «دادل» درې په منځوی برخه کي د ښوونځی له پاره ځمکه خوښه شوې وه او دا ځمکه په دولسم ټولګي کي زما د يو همصنفي ملکيت وه چي ظريف نوميده.

ظريف نومی د دادل د درې د «سه قلا» نومي کلي اوسيدونکی و. په ۱۳۵۴ کال کي د نرخ په ليسه کي په دولسم ټولګي کي يې زما سره په يوه صنف کي درس وايه. د هغه وخت سر کاري هيأت ځکه د ده ځمکه د ښوونځي له پاره خوښه کړې وه چي د درې په منځوی برخه کي يې موقعيت درلود او ده له جرګو مرکو سره سره همدا ويل چي: «زه د پلار هډوکي نه خرڅوم»، خو د پلار د هډوکو د احترام او ساتلو تر څنګ، ځينو خلکو د ګناه په نامه نور څه هم په غوږونو کي ورته پو کول. زه او ظريف به هره ورځ په ګډه له «دادل» نه تر عمر خيلو پورې ليسي تلو. ښه راسره صميمي هم و.ما به چي هر څومره د ښوونځي په باب، د وطن د اولادونو دروزلو په باب او د نوي نسل د با سواده کيدو په باب ورته وويل، مه دې سه.

دهمداسي ښوونځيو نه شتونه او د څو نسلونو د بې سواده پاتي کيدو او يو شمير نور لاملونه دي چي د نرخ اوسيدونکي له اوسنيو ستونزو سره لاس ګريوان دي، په دښمنيو لړلي دي او د تضادونو په سوځنده ډنډ کي لاس او پښي وهي.

ما خپله ميرمن او ماشومان يو وار د ډاکتر نجيب د واکدارۍ پر مهال عمداً خپل کلي «نرخ» ته وليږل. کله چي بيرته راغلل، ماته مي خپله ميرمن وايي چي آصف جانه ستاسو خلک ولي دومره وروسته پاتي دي چي لا غوجل کي له څارويو سره شپې تيروي؟ ستاسو کلی کور خو کابل ته نږدې هم دی، دا چي خلک په فکري لحاظ دومره ورسته پاتي دي، سواد او ښوونځی نه شته، خلک د ژوند په لومړنيوارتياولا خبر نه دي، له ښځو سره د څارويو په شان چلن کيږي ... دا او دا نه شته، د دې دليل څه دی؟؟؟

همدا پوښتني نن زما خپل کليوال نرخی تابع صاحب مطرح کوي چي نرخ په ويرکي ډوب دی، نرخي توب باندې خلک شرميږي او... د ده خپل شکايت دا دی:

«په نرخ کی ځوانان د بل چا له پاره مري، د بديو څښتن کيږی او دا چی دا ((بل))څوک دی، دا هم نرخيان نه پيژني، خو دوی پرې ځانونه ختم کړل... نن نرخ له سيالانو وتلی، نن نرخ زخمي، زخمی دی، کور په کور بدي ده. د نرخ له جګړې ديني علما، قومي مشران، په نوم جهادي مشران، پخواني حکومتي چارواکي، اوسني حکومتي چارواکي، ټول خبر دي، خو هيڅ څوک د نرخ په حال ځان نه خوا بدی کوي. ځکه نورو ته دا وير پردی دی. زه پوهيږم چي په نرخي ټولنه کی د رينتيا ويلو نارينه مور نه زيږوي، که کوم يو هم ناځاپي وموندل شي، ډير ژر يې له منځه وړي، خو زه په خته، په وينه، په تذکره او په اصليت کی نرخی يم. زه د خپل ولس په دې بې ځايه وژلو، ټپي کيدلو، ورانيو، بديو ځوريږم. زه له د باندينيو سوچه پښتنو غواړم چی د نرخ وير د ځان وبولي او يوه داسي لاره ورته پيدا کړي چی نور زمونږ نرخيان هم وخاندی، سر اسکی وګرځي، نور د نرخ په نوم له چا څخه پرې ونه شرميږي» (۱)

زه چي عملاً دومره له وطن نه لرې يم او کوم اجرايي ځواک هم په لاس کي نه لرم، څه نه شم کولای، که د کولو لافه ووهم، کومه عملي ښه به نه لري، خو د قلم د ځواک په وسيله دا کولای شم چي تا سره او ستا په شان له نورو هغو سره چي د افغانستان په درد، د ميدان او نرخ په درد، دردېږي، همغږی شم او دا ووايم چي: په همدې لار کي مو هڅي جاري وساتئ، ځوانان مو له جنګ جګړو راوګرځوئ، د پوهي، زدکړې او علم پر لار يې برابر کړئ او د نوي نسل روزلو ته کلکه ملا وتړئ.

---

زه يې په ټينګار سره بيا تکراروم: کومې بد مرغۍ او دردونه چې ښاغلي«تابع» ياد کړي دي، لومړنۍ لامل يې لکه د افغانستان د نورو سيمو، په نرخ کې بيسوادي ده، ښوونځيو يا نه شتون او يا کمی دی په تيره وروسته له دې چې ټوپکي مبارزې زور واخيست او اکثره نرخيان، د ښوونځي په ځای د جګړې ډګرته وليږل شول او د کتاب، قلم پر ځای په لاسونوکې بم او ټوپک ورکړل شول.

له سواد، زدکړې، ښوونځي او پوهنځي سره بې علاقه ګي يو څه په ميراثي ډول له نورو نسلونو ورته پاتې ده او د دې سيمې پرخلکو د ژوند حالات داسي راغلي، يا راوړل شوي دي چې له سواد او ښوونځي نه زيات، د خيټې او تن د جامو په فکر کې اوسي.

له هر چا نه چې د نرخ او نرخيانو پوښتنه کوی، هماغه يوه خبره ده: جګړه، نا پوهي او مرګ ژوبله. په ٢٠١١ کال کې يو نرخی له اروپا نه ايران ته د خپلو خپلوانو ليدلو ته تللی و. بيرته چې راغی ورنه مې وپوښتل چې په ايران کې دې نرخيان وليدل، ويل يې هو. د نرخ په باب يې څه ويل؟ هغه وويل چې:

«ولا څه به درته induced واوايم، د خولې مزه به دې بده شي.هماغه تربګلوۍ دي، وژل دي، ټبتول نور هم ډير شوي دي او...»

ما وپوښت چې د نرخ د سرک مامله څنګه شوې وه؟ د نرخ سرک خو به اوس پوخ شوي وي؟ هغه په ځواب کې راته وويل چې تر مړو پورې پوخ دی وروسته له هغه سپين ږيري او نور خلک د سرک د پخولو مخه نيسي وايي چې که سرک پوخ شي بيا امريکايي قواوې راځي. ما ورته وويل: چې کور دې يې ګډ شي، ولې داسي نه وايي چې پاکستانی يې نه پريږدي چې سرک پوخ، ښوونځی جوړ او خلک پوه شي، امريکا يی قواوې که ورځي خو کولای شي چې له هيليکوپټر سره د هر کور د بام پر سر ور ښکته شي. هغه ويل بس نو، څه زموږ د خلکو نا پوهي او څه ديرديو لاس چې نه غواړي دا خلک ښونځی، پوهنځی، قير سرک، بريښنا او ميديا ولري، هغو ته چې هر څومره د ښيګڼې وويل شي، نه يې مني، مه يې کوه چې د عمر تر پايه همداسي ناپوه وي چې د تش په نامه ملايانو، پرديو او جګړه مارو خبرې مني، دغه به يې حال وي.

له ١٩٩٢ م کال نه وروسته چې زه له افغانستان نه راوتلی يم، دلته په اروپا کې مې چې ميداني نرخی ليدلی، د کلي کور او د هغه وخت وړو هلکانو او زموږ د همځولو پوښتنه مې چې ورنه کړې ده، راته ويل شوي چې:

يا قومندان دی، يا سرګروپ دی يا مړ دی. چې هيڅ نه وي نو په بيلابيلو نومونو د کومې ټوپکي ډلې سلاح خو لکه طوق لعنت ورله غاړه وي. د يوه مې هم وا نه وريدل چې تر کوم لوی ښار پورې يې ځان کوم پوهنتون ته رسولی وي. چې ډيره توره يې کړي وي نو ايران ته د مزدورۍ له پاره تللي وي چې د هغو تللو هم ډيره سلنه له هغې خوا د ايراني مخدراتو طوق لعنت پرغاړه راروان وي.

که دې نسل، په تيره دې اوسنيو مسلح ځوانانو سواد درلودلای، د ښوونځي او پوهنځي په چاپيرياِل کې ګرځيدلي وای، د علم او پوهي په مزيت او راتلونکو باندې پوهيدلای، نو اوس به يې په اوږه کې د سلاح په ځای، په ککره کې علم او پوهه درلودلای او په غاړه کې د کلاشنيکوف پر ځای به يې په خپل لاسي بکس کې لپ ټاپ ګرځولای.

د پرديو د ګټو د دفاع پر ځای به يې د خپل ځان، خپلي کورنۍ، خپل کلي ښار او وطن د خلکو په باب فکر کولای، خو اوس د بيسوادۍ او ناپوهۍ په وجه، سلاح ګرځوي او د نورو د اهدافو له پاره خپله وينه تويوي.

ټول هغه دردونه چې ښاغلي تابع ياد کړي دي، دا بې نرخي ده چې له نرخ سره او د نر خ له اوسيدونکو سر ه شوې او کيږي او د دې بې نرخي لمن اوس ټول افغانستان داسي نيولی چې هيڅ سيمه هم ورنه خلاصه نه ده، خو له نر خيانو سره دا بې نرخي د فاجعي تر سرحده شوې او کيږي.

دا ټول د بيسوادۍ او ښوونځي نه شتون و چې له تيرو ورته په ميراث پاتې و او دوی په کې ښکيل شول. نرخيان يا د تنظيمي ډلو ليکو ته ولاړل اوتنظيميانو هغوی د بهرنيانونيابتي جګړو ته سوق کړل خپل کلتور، خپل عقايد، خپل کلی کور، خپل خلک او هر څه يې بر باد کړل او حتی د همدغو اسلامي ضد او وطني ضد ټوپکوالو د کړنوپه وجه اوس د ځينو خلکوعقايدو ته د سواليي ټکی ايښودل شوی دی.

له دې بد مرغيو د خلاصون لار د نوي نسل روزل دي، په خلکو کې د سواد، زدکړې او پوهې عامول دي، او دا وخت او کار ته اړتيا لري.

موږه افغانان هرڅه په منده او بيړه غواړو، دا په ياد ولرئ چې له پاسنيو بلاوو نه د افغانستان د ټولو ماشومانو او نوي نسل د خلاصون لار، د سواد زدکړه، ښوونځي او پوهنځي ته تګ، له نويو علومو او فنونو سره ځان آشنا کول دي او د تمدن کاروان ته ځان رسول اوله هغه سره منډې وهل او سيالي کول دي، او دا کار په معجزه نه کيږي.

داسي نه شي کيدای چې سړی د شپې څملي، سهار ته چې راجګ شي جګړه ختمه وي، بهرنيان ورک وي، لاس مو

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

بل چا ته نه وي غځیدلی، ټول خلک باسواده، با تعلیمه پوهنتوني وي، سرکونه پاخه وي، لوړ منزله ودانۍ وي، کانالونه او د بریښنا بندونه او... هرڅه جوړ تیار وي او موږ لکه جنتیان په کې خوشاله ژوند وکړو.
هر څه له صفر نه پیل کیږي. د نوي نسل روزنه، سواد، ښونځی، پوهنځی او له نوي ژوند سره ځان برابرول، دا هر څه زحمت او وخت ته اړتیا لري، کنه نه نو دغه حال چې د تیرو نسلونو و، اوس زموږ له هغو نه هم خراب دی او که موږ مثبت څه ونه کړو، د راتلونکو نسلونو حال به له موږ نه هم پسي خراب وي. دا په دې چې زموږ پلرونو او کلیوالو له ښونځي او تمدن سره مخالفت ښوولای و، که موږ هم د هغوی د مخالفتونو په پله باندې قدم کیږدو، نو د راتلونکو نسلونو حال به مو له موږ نه هم بد تره وي.
د زړه خوالي د دې بحث په پای کې د یوه شعر یو څو بیتونه راوړم چې زما د پاسني بحث ټول مطلب منعکسولای شي. د شعر شاعر ماته نه دی مالوم، دا زما ګناه ده. اول دې ما ښاغلی شاعر او بیا لوستونکي وبښي چې زه یې ما خذ نه شم ښوولای، هغه هم د دې له پاره چې ما دا شعر د کوم چا د مخکتاب په کومه پاڼه کې چیرې لیدلی و، پرته له دې چې لینک یې وساتم، یاد داشت کړی مې و.
که موږ د نوي نسل روزني ته پام ونه کړو، هغوی به هم همداسې وي لکه موږ. دا هم شعر:

خوب وړي اوبـــو وړي، لــکــه موږه
بـې تـعـلـیمه خـلـک مـړي، لـکـه موږه
خدایه نـورمو دا واړه په علم پـوه کړې
ګڼي دوی به هم وي سترې لـکه مـوږه
سوي، سوي به وي سوي په ګرمۍ کې
ور په غاړه بـه وي پـړي لـکه مـتوږه

مآخذونه:
1-http://www.taand.com/archives/28165
۲ــ ارشاد،اورنګزیب، افغانستان پیژندنه،دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ ل / ۲۰۰۶ م کال،۱۱۸مخ
۳ــ زاهد، مشوانی عبدالقیوم، پښتو ــ پښتو سیند، دانش خپرندویه ټولنه، دریم چاپ، ۲۰۰۹ م کال،۱۰۰۹ مخ.
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ